




# Orientation to Ontario

# مشران

## د مشرانو لەپارە د پروګرامونو او خدمتونو لارښود

د مشرانو چارو ایالتي وزارت په 16 ژبو د لویانو لەپارە د پروګرامونو او خدماتو لارښود خپروي. د کاپي غوښتلو لەپارە په 1999-910-888-1 کې د مشرانو معلوماتو لاین ته زنګ ووهئ. د مشرانو لپاره د ملاتړ په اړه د نورو معلوماتو لەپارە، ontario.ca یا findlink.at/ SeniorGuid ته لاړ شئ.

## استوګنځی

### له استوګنځي سره عیارېدل

ډېری مشران غواړي په خپلو کورونو کې ژوند وکړي. د اونټاریو حکومت مالي مرسته چمتو کوي چې د مشرانو سره د دوی د کورونو په ترمیم کې مرسته وکړي ترڅو دوی په خپلواک ډول ژوند وکړي. د نورو معلوماتو لەپارە، ontario.ca یا findlink.at/homeadapt Adult وګورئ

## د ژوند طرز ټولنې Lifestyle Communities

دا ټولنې د متقاعدینو لپاره د استوګنې خپلواک ځایونه دي. د کور جوړولو اختیارونو کې ښارګوټي، کنډومینیمونه او کوچني کورونه شامل دي.

اوسېدونکي ټول لګښت ورکوي. ټولنیز او تفریحي فعالیتونه په سایټ کې شته.

## د متقاعدینو کورونه

د متقاعدینو کورونه شخصي کاروبارونه دي چې د مشرانو لپاره د استوګنې، ملاتړ خدمتونه او شخصي پاملرنې چمتو کوي. دا کورونه د اونټاریو د حکومت د متقاعدینو له ادارې جواز لري.

د کورونو د تنظیم اداره (RHRA).

اوسېدونکي ټول لګښت ورکوي. د ساحې له مخې د متقاعدینو کورونو د لیست لەپارە، rhra.ca وګورئ.

## د پاملرنې اختیارونه (اپشنونه)

د مشرانو لەپارە د پاملرنې د لاندې اختیارونو په اړه د لا زیاتو معلوماتو لەپارە، د روغتیا او اوږدې مودې پاملرنې وزارت ته لاړ شئ ontario.ca یا findlink.at/senior

- د کور پاملرنو کې د روغتیا متخصصینو لکه نرسانو او فزیوتراپیستانو لەخوا د کور لیدنې ؛ شخصي پاملرنې لکه د حفظ الصحې سره مرسته؛ د پخلي او کالیو مینځلو په ګډون کور ساتلو مرستهشامل دي.
- د ژوند کولو مرستندویه خدمتونه د زیانمونو مشرانو سره مرسته کوي چې په کور کې د ټاکل شوي پاملرنې او د اړتیا وړ پاملرنې سره یوځای ژوند ته دوام ورکړي.
- په ټولنیزو پروګرامونو کې د لویانو د ورځې ځارل شوي پروګرامونه، خواړه او ترانسپورت خدمتونه شامل دي.

د اوږدمهاله پاملرنې کورونه د هغو مشرانو لەپارە استوګنځایونه دي چې د 24 ساعتونو نرسنګ پاملرنې یا ځارنې ته اړتیا لري. دا کورونه د روغتیا او اوږدمهاله پاملرنې وزارت لخوا جواز لري. اوسېدونکي یوازې د استوګنې لەپارە پیسې ورکوي — د نرسنګ پاملرنې او شخصي خدمتونو لەپارە د ایالتي حکومت لەخوا پیسې ورکول کیږي. په خپله سیمه کې د اوږدې مودې پاملرنې کور موندلو لەپارە، ontario.ca یا findlink.at/longcare ته مراجعه وکړئ.

یادونه: پاملرنې ته ستاسو د لاسرسي لەپارە لومړی ګام د روغتیا ادغام له سیمەییزې شبکې (LHIN) سره اړیکه نیول دي.

ccac-ont.ca یا www.healthcareathome.ca وګورئ.

1-855-626-0002
https://settlement.org/o2o




Funded by / Financé par :

Ontario

Immigration, Refugees and Citizenship Canada

Immigration, Réfugiés et Citoyenneté Canada



## ګټې

د زاړه عمر خوندیتوب (OAS) تقاعد

OAS یو میاشتنی تقاعد دی چې د 65 کلونو یا له دې ډېر عمر لرونکو خلکو ته ورکول کېږي. د OAS د ور کېدو لپاره تاسو باید تر 18 کلنۍ وروسته په کاناډا کې له لسو کالو زیات ژوند کړی وي.

## بشپړ تضمینې شوی عاید (GIS)

که تاسو د ټیټ عاید لرونکي مشران یاست چې د OAS ګټې ترلاسه کوئ، تاسو ممکن د GIS لپاره هم ور وئ. د OAS او GIS په اړه نور معلومات په ServiceCanada کې ولولئ.

findlink.at/SsFXrD یا servicecanada.gc.ca ته مراجعه وکړئ یا 1-800-277-9914 ته زنګ ووهئ.

نوټ: تاسو باید د OAS او GIS لپاره د ServiceCanada له لارې غوښتنه وکړئ – له دې خدمتونو څخه په اتومات ډول نه برخمن کېږئ.

## تضمین شوی کلنی عاید سیسټم (GAINS)

که تاسو د OAS او GIS ګټې ترلاسه کوئ او ستاسو ټول عاید د ایالت  لخوا د تضمین شوي کچې څخه ټیټ وي نو تاسو ممکن په اتومات ډول د دې ایالتي عاید د بشپړ تضمین د پروګرام ور وګرځئ.

د لا زیاتو معلوماتو لپاره د مالیې وزارت ته مراجعه وکړئ ontario.ca مراجعه نمائید یا با شماره 1-866-668-8297 ته زنګ ووهئ.

## د کاناډا د تقاعد پلان (CPP)

CPP د متقاعد اتباعو او دایمي اوسېدونکو لپاره دی. په کاناډا کې کارګران د عایداتو مالیې سیسټم له لارې په دې پلان کې برخه اخلي. کله چې تاسو تقاعد شئ د CPP  غوښتنه کولی شئ.

ستاسو د میاشتنی ګټې اندازه ستاسو د ونډې په مقدار پورې اړه لري. د لا زیاتو معلوماتو لپاره، د findlink.at/CPP  یا  servicecanada.gc.ca ته مراجعه وکړئ.

## داونټاریو د درملو د ګټې پروګرام

دا برنامه د اونټاریو د هغو اوسېدونکو لپاره د نسخې درملو بیه ورکوي چې عمر یې 65 کاله یا له دې ډېر وي. نور معلومات په findlink.at/ODB یا ontario.ca کې ومومئ یا 1-866-532-3161 ته زنګ ووهئ.

## له لویانو ناوړه ګټه اخیستنه او خوندیتوب

له لویانو ناوړه ګټه اخیستنه هر هغه عمل دی چې د لویانو روغتیا یا هوساینې ته زیان رسوي او  مالي، احساساتي، فزیکي یا جنسي خورونه په کې شاملېدی شي. دا خورونه کېدای شي په کور کې یا له ټولنې څخه بهر واقع شي.

که تاسو یا یو زوړ سړی چې تاسو یې پېژنئ له لویانو د ناوړه ګټه اخیستنې قرباني شوی وي، په دې برخه کې مرسته شته.

د مشرانو د خوندیتوب کرښه له 150 په زیاتو ژبو 24 ساعته معلومات، ارجاعات او ملاتړ چمتو کوي. تاسو د ناوړه ګټه اخیستنې راپور هم  ورکولی شئ 1-866-299-1011 ته زنګ ووهئ.

## مهمې سرچینې

**که تاسو طبي بیړني حالت ولرئ، 119 ته زنګ ووهئ او د امبولانس غوښتنه وکړئ.**

په خپله سیمه کې د مشرانو لپاره د ټولنیزو او تفریحی پروګرامونو د موندلو په موخه 112 ته زنګ ووهئ.

د اونټاریو د بشري حقونو له کوډ سره سم ستاسو د عمر له امله له تاسو سره غیر عادلانه چلند نشي کیدای. د اونټاریو د بشري حقونو په کمیسیون کې نور معلومات ولولئ: ohrc.on.ca

## مهم یادښت

**مجرمین اکثرا د مالي درغلیو لپاره زاړه په نښه کوي. د کاناډا د درغلیو ضد مرکز کې د ځان او نورو ساتنې د څرنګوالی په اړه معلومات ترلاسه کړئ:** antifraudcentre.ca

## ایا پوهېدئ؟

**د نړدې ټولو دولتي برنامو لپاره په شرایطو برابر یا ور وبلل شئ تاسو باید هر کال د شخصي عاید د مالیې فورمه یا اظهارلیک ډک کړئ.**